پیمانه ئ یو غیرت بله وفا ده

زه نامه د ګلو اخلم جانان غواړم
رقیبانو سره څکه یو سودا ده

د ښتک" کچکول ته ګل راګذار نه کړے
چه د کړی د ازغو سره صلا ده

بوډا پښتو
1/10/80

www.pdfbooksfree.pk

دَ هجر لارہ لویہ دہ تو ښے درسرہ واخلہ
دَ کلکو ارادو بلے دیوے درسرہ واخلہ

جامہ کښے دَ ریبار پہ هرقدم کښے رقیبان دی
دَ یار دَ ښکلو ستړکو پلوشے درسرہ واخلہ

چہ خامخا ورځے دَ تورا اوربل پہ کړ لیچونو
زمادَ ژړو اوښکو دُر دانے درسرہ واخلہ

زہ کے زخمی زخمی اوستړکے تولے وینے وینے
جانانہ ستادَ مینے دا غنچے درسرہ واخلہ

رقیب دے زورولے رهروانو ژړہ ولے
زلمیہ دَ «ختک» دا تجربے درسرہ واخلہ

بودا پست

۱/۱۱/۸۰

www.pdfbooksfree.pk

په خوب کښے به مې ستا څهره لیدله کله کله
سپورمئ وه په زړګی مې ځلیدله کله کله

زما د زړه ترکل به ستا د شونډو مسکا راغله
غوښتئ به چه وږمونه ګډ یدله کله کله

بس لږه پښه نیولی به شوه دومره راته یاددی
چه خواکښے به مې غلی تیریدله کله کله

همدغه شان چه میاشت د اختر بنکاری په شفق کښے
هغه به هم په بام را اوختله کله کله

نن ټول اولس د هغې محبوبا سندرے وائئ
"ختک" به چه د ځان سره ژړله کله کله

بورډ پست

2 / 11 / 80

www.pdfbooksfree.pk

دَ ژوند حقیقتونه دَ غزل په کنایو کښے
تصویر دَ زولنو دے دَ زلفانو په مصرعو کښے

دَ ګل دَ زړګی وینه هم رنړا شی هم مستی شی
ساقی ئے ګرځوی په ښکلی لاسو میکدو کښے

زړه نه دے چه حسن یا ګل دے، یا جانان دے
مُسیبی دَ ژوند زن به پسرلے دے آئینو کښے

صبا به نور نه زړه یم، نه به ته، نه داغونښتے
زړه چه له شمع نن رنړا شو په تیرو کښے

یمن ژوند دے نور ژوند دے ګل خندا لړ ئے ورکړه
زړهٔ مه ستړے کوه، خپکه" نورو فلسفو کښے

بوډاپست
2/11/80

www.pdfbooksfree.pk

په یوخوا زحمتونو ته په ډاکه غاړه روځو
په بل لوری ګلونو ته په ډاکه غاړه روځو
خوک ننوتل ګوټ تر خوک نشو کښے لاړل ډوب شول
دا مونږ حقیقتونو ته په ډاکه غاړه روځو
دُنیائے دَ نیکه ده نه جنت دَ چا دَ پلار دے
دَ حورو هیسے جونو ته په ډاکه غاړه روځو
ملګرو زندګی دَ ارتقاء یو مرحله ده
خوږو ترخو ختونو ته په ډاکه غاړه روځو
رختمک لیونے نه دے څه ضرورشته دَ علمه
راځئ چه زنځیرونو ته په ډاکه غاړه روځو

بودا پست
2/11/80

www.pdfbooksfree.pk

چاوے چه دا ځنګل په ګلستان دے بدل شوے
ماوے چه په دے خاورهٔ انسان دے بدل شوے

ګلونو ته چه ګورے لږ مخونو ترهم ګوره
باغ ځکه بشکلا شوے چه باغوان دے بدل شوے

مُسکا دَ هرچمن یو ډیره بنکلی آئینه ده
هرچا ته پکښے بنکاری چه جهان دے بدل شوے

ګل بنکل کړه ازغے ګل کړه دَ ورد موسړه آلوزه
پسرلے شولو دَ ستور دګلستان دے بدل شوے

ډیوے تر ورکوئ دَ زړګی وینه چه رنړا وی
په لار دَ محبت کښے چراغان دے بدل شوے

یارانو ګل اوزخم دَ یو ځسن تصویر بولی،
مضمون دَ محبت "دَ ځتک جان" دے بدل شوے

بودا پست
۴/۱۱/۵۵

www.pdfbooksfree.pk

میوے دی که ګلونه که ټیره ټیره ازغی
داتول دی پیدا کړی یو بنائسته غوندے پسرلی

دَ پیو مجنونان دِ کاسے پټے کړی روان شی
دَ وینو مجنونان خو په نشتر وهم ورځی

دَ جام نه چې مخ وارِ رو دَ ګل نه ستر کے پټے
زخمونه دَ ګوتو ګل به تندہ څنګه سړوی

بس یو پت مونیولے دے دَ ګلولار زمونږ دہ
دا نورے معاملے دے حریفانو سره وی

بنائسته دَ فطرت غیږ ہ په ژوندون بنکلی کوو
ملا یو هر شه، فتوے یو هه چه څومره لګوی

خبرے دَ "ختک" دَ ژوند دَ بحر ملغلرے
دَ ګیدے غرضیان ئے په کنجلو بدلوی

بوډاپسټ
4/11/80

www.pdfbooksfree.pk

داچه ګلونه مړاوی کیږی د خزان په سیلۍ
د شونډو حُسن دِ او چیږی د ارمان په سیلۍ

په تورۀ شپه کښے د ډیوے نه بغیر کار نه کیږی
تازه کوو د زړۀ زخمونه د ارمان په سیلۍ

د ګل د حُسن د وفا په لاره سیخ روان دے
حوصلے کله کمیدے شی د کاروان په سیلۍ

راشئ چه بیا ګل کړو د غنچو سنړو په نوم ګلونه
جوړ کړو د مینے یو طوفان د ګلستان په سیلۍ

که د ډډ ختک منئ راځئ چه مخ په وړاندے وړځو
مزل به نږدے کوتۀ کوو د هیڅ خفګان په سیلۍ

بوډاپست

4/11/80

www.pdfbooksfree.pk

دَ غاړے دَ امبیل نه را ته دا رجوړه وه مه
لاسونو دَ رقیب ته پکښے لای جوړه وه مه
نه مینه او نه پت پیژنی نه دَ ستاوفا
کوڅے نه دِ دَ داسے خلقو لای جوړه وه مه
په خوب کښے مِ هم بدی شی دَده سپیره څهره
په کور کښے دَ رقیب نه راته پلار جوړه وه مه
دَ مینے روایت دے په سور هور کښے باغچے
ته ما ته دَ سرو ګلونه انګار جوړه وه مه
"رخټک" په تور کوهی کښے هم دَ مینے پامته دارد ے
خرڅون ته ئے دَ مصری یو بازای جوړه وه مه

بوډاپست

6 / 11 / 80

www.pdfbooksfree.pk

دابیا راته دَ چا په وینا شونډے بُوسوے
هُما دَ زړه دَ پارهٔ دا کل سرے لهجه کوے

نه مونږه لیونی یو نه دا کتے خپله ووری
دا ته ئے اے رقیبه! چه دا لو بے جوړوے

دا زهٔ په سربازئ غاوره ته پخپل بنائست
همدا سے بے دیدنه رم ترکوی ه رسوے

که لږ در کښے ایمان وی یا ئے کل کړه یا ئے ورک کړه
په غوږ کښے راته خه هروخت رقیب رقیب کوے

یقین رم دے "ختک" ته په خندا خندا راځ
خو وخت ئے دَ سیالئ په انتظار کښے تیروے

بوډاپسټ

6/11/85

www.pdfbooksfree.pk

یو ماشوم چرته کښې بیا موندو یو ګل
چه زې مړاوے شو ده بیا وې ته ژړل

ماوے دا ماشوم په دے خبره پوه کړئ
خوشحالی وی، پسر لی کورته راوستل

بوډاپست

6/11/85

www.pdfbooksfree.pk

که په مقتل لاړه تیریږی په مقتل ورځو
داځل جانان پسے ملګرو تر منزل ورځو

دَ ارزغو لاړه ده دَ وینو په ګلونو بښائسته
مونږه په مینه دَ غنچے غنچے اوربل ورځو

مونږ لیونی دَ مینے خپل مخصوص شعور هم لرو
دَ یار ترخنګه چه رسیږو نو په چل ورځو

تیرو کښے غلی غلی کیږو په سینو به سکیږو (۱)
چه کاروانے ستورے بنکاره شی په یرغل ورځو

زړه اوځیګر راته لمبو دَ بیلتون بنه سوی دی
دَ جام تر شونډو اوس په بیعه دَ اجل ورځو

په هر قدم چه ځے سړے وینے تر منزله تللی
خلقه په دے لاړه روښانه دَ اجمل ورځو

بودا پست

---

(۱) سکیدل - خوسیدل - یا خسیدل - په سینه یادَ وجود په بله حصه ورو ورو څخیدل کیدل -

www.pdfbooksfree.pk

ډیوو سرونه اوسول دَ رښا په طمع طمع
غوټیو شوندے سرے کړے دَ صبا په طمع طمع

خبرئے چه سلګو سلګو کښے هم خُوانان مسیرۍ
دَ دے نه هم خبر شه چه دا ستا په طمع طمع

دا مونږ چه دلته لارے په سرو وینو چراغان کړے
دَ زړه نه تپوس اوکړه چه دَ چا په طمع طمع

په خیرو کړیوانُونو مرخوشحالے اوښکے خاندی
دَ ستا دَ رښو اوښکو دَ مسکا په طمع طمع

جفا خوئے لیدلی ده دَ عمر سره سمه
"خټک" لاره کښے پروت دے دَ وفا په طمع طمع

بوداپست

www.pdfbooksfree.pk

دَخیالہ کوہ مہ راځہ منګے دِ کړ وے
دَسپین تندی دَپاسہ دِسُورتیک خرابوے

معصومہ ئے، سادہ ئے، بنا ئستہ دَ ګلولبستہ
ګودرتہ پہ همزولو کښے هوسئ شی چہ رائے

زمونږہ ارمانونہ ورتہ سرشی پہ ګډا
چہ ګل چرتہ پہ لاسو کښے دَخیالہ ګډوے

اغیارو زوی ولی مات تندی دِخوالہ دریشو
تہ غلی غوندے اوګورے بیا خنډے لوبوے

پہ دیرہ خوشحالئ ئے مونږ پہ سر ستر ګو منو
دا دومرہ اداګانے ستا دَحُسن تقاضہ

چہ خیری ګریوان اوو ینم ،، خټک ،، راتر رایاد شی
دانن خټکہ رایاد شولو چہ تراوخندیدے

بوډاپسټ
8/12/80

www.pdfbooksfree.pk

نن زما دَ ګولګل زخم دَ لیدو دے
پکښے بښکلے صباؤن په مسیدو دے

په مقتل کښه رقیبانو سختی زیاته
دَ زړهٔ غلے ئُ لکه بیا په ویریدو دے

عَلم وائی ګناه ستا دَ لیونتوب دے
په ما نه ول برکت ستا دَ اشارو دے

دَ سکنې دَ حُسن مالکه چه سیوا دے
په لیمونُ نرے پشم دَ خولو دے

که ګل نه وی نو په پانړه خورم اوله
که وفا نه شوه نو ملک خودَ پښتو دے

چه دَ یار نوم ئُ څوک اخلی ورپسے وی
په ٔ خټک کښے دا مرض دَ لیونو دے

بوډاپست

8/11/80

www.pdfbooksfree.pk

چرته چه وریځې د اُورښلی وری
هلته کښې کلونه په هرپل وری

راشئ چه میرے ورپسے اوګورو
داځلے پسرلے به په اټکل وری

تندۍ د دیدن لۍ ړاته زیاته کړۍ
ستا د حیا ګانے چل په چل وری

خومړۍ چه صفت لۍ د ښکلا اوشی
هومړۍ م په زړۍ باندے منزل وری

مونږۍ د غټانو ښکلے څۍ کود
مونږ ته به زمونږۍ په بورجل وری

هلته کښې ړباب وطن وطن کوی
چرته چه شعرونه د "راجمل" وری

9/11/80

www.pdfbooksfree.pk

مشرقی جرمنی

دا دلته بزګوی آدم رباب په کومه ګوته
چه ورانګوډ اسمان کښې راپیدا ورسره تنګ شو

www.pdfbooksfree.blogspot.com

www.pdfbooksfree.pk

راځئ چه مونږ هم ورشو تماشه به وی ډ کلو
میروته موراغلے دے شرشم په زیړو کلو

بنائسته محبوبا ورو ورو ورپسے ده را روانه
خبر به ئے راوړی وی کچه کچه غندلو

ډمیز اودَ ممبر طواف زړه تورکړو ستړکی اوړی
راځئ چه ئے تازه کړو دَ بنائسته دوپه کتلو

نه کل پکښے خرخیږی اونه مینه بیعه کیږی
دا پولے اوپټی دی دَ ارواح خوشحالولو

په دارخوځنګیدل زمونږ دَ عُمر تماشه ده
څه لږ خوبه خوند واخلو دَ پی څخو دَ ځانګلو

هواچه شنه وابنه ببرے جارے مستولے
تنذرو او سیسوته خپل، ختک، رایادیدلو

دَ بوډاپسټ اوبرلن لارې په ریل کښه

۹/۱۱/۸۵

www.pdfbooksfree.pk

زړه څه اوکړم چه کل کښے راته ستاسترګے خلیږی
دا زړه په بیلتانه کښے په خوږو کله پوهیږی
الله! چه دا بیلتون اومینه دوارګے پرسی شی
سړے که دیر پوهیږی بیا په هیڅ هم نه پوهیږی
دا مونږ ته لاڅه بل رنګ لیونی یو روغو خلقو
دا هرڅه ښکلی غواړی په لیلا مَیْلا نه کیږی
جنت خو دَ ښکلا یو حقیقت دے مونږ ئے غواړو
خوستاڅه اعتراض دے که په دے دُنیا جوړیږی
راځه ځی دَ ستا دَ مستو سترګو بلا واخلم
ځینګ په زړه کښے غل نه دے چه ښکلو نه شرمیږی

مشوقی بولن

۱۱ / ۱۱ / ۸۷

www.pdfbooksfree.pk

ټول باغ دا ستا په حُسن او زما په مینه رنګ شو
رقیب ئے سرو لمبوته غورزوی دومړه ترے تنګ شو

زه وایم دا دنیا دِ یو وفاشی بله مینه
دَدۀ په زهرِ کښے غلاده ځکه ما سړۀ پرجنګ شو

کهٔ تورو واوکه سپین وینبته ئے ټول یوۀ لغمه کړل
چه سُوی زمونږ دَ مینے دَ تارو نو نوے چنګ شو

دا دلته غږ وی آدم ی باب په کومه کوته
چه ورانکو دَ آسمان کیږه را پیدا ورسړۀ تنګ شو

دَ حورو او غلمانو دک جنت کیږه ئے څه اوکړل؟
تکل چه دَ انسان په ارادو کیږه په غوی زنګ شو

دَ حُسن په معیار کښے ئے مشرق او مغرب نشته
دا څکه خو" خټک" کچکول را واخستو ملنګ شو

مشرقی برلن
۱۱/۱۱/۸۵

www.pdfbooksfree.pk

چه نمر څیره وهی د کلو بنکاری لره ورځو
د مستو بنا پیرو بنکلی دیدار لره ورځو

د ظلم تودره شپه به سپین سحر د مدعا شی
د سرو کلو امبیل لاسو کښے یار لره ورځو

د ستا د ستر کو زار شم په کودی به سړه وینو
ملنګری روانیږی اوس خو کار لره ورځو

روغ نه یو په ربستیا د ستا د زلفو لیونی یو
واځکه په خندا خندا خو دای لره ورځو

د کل جرس په لاس رختیک د سفره د سړه وائی
ملنګرو را په دوشئ چه بهار لره ورځو

مشرقی برلن

۱۱/۱۱/۸۵

www.pdfbooksfree.pk

راځه چې تنګوو سره دَ زړې سوې ی باب
سندرې به ترې آورو دَ یادونو دَ کتاب

زمونږ سره بنائست دے، مسته مینه اووفا
دَ نورو سره څه دی بس ثواب دے یا عذاب

مستی غواړو، سرور غواړو، نشه غواړو آشنا
چه ستا دیدن ئے راکړی مونږ ته څه کوو شراب

که هوروو که نشتر وو مرحلے و بے تجربے
زړګے مې هم لاهغسے تازه لکه ګلاب

پروا نشته که پاڼے ئے ختمیږی دَ کتاب
«ختک» سره خو فکر دے دَ جونو دَ شباب

مشرقی برلن

12 / 11 / 80

www.pdfbooksfree.pk

ګرانه چه سړه اوښکو دَ مینې په یوتال
دَیوبل نه چا پیژه کړو لاسونه دَ وصال
ظلمونو دیر وهلی یو، غمونو کړو ولی
روښانه توره شپه کړه ستا دَ حسنّ جمال
دَستر ګو په مسکا دَ محبت خبرے اوکړه
ستا شونډے راته اووائی دَ سرو جامونو حال
بهار داځل زما په زړه دَ حُسن رنړا اوکړی
ګل، ټول عُمر را ځی خوا سه تیرشی کا لیکا ل
یوځل خو په ربنتیا ئے په خندا ترخنګه راشه
"رخټک" خپله ځوانی در پسے خاورے کړه په خیال

مشرقی برلن

12/11/80

www.pdfbooksfree.pk

دَ ګیلو مانو امبار دِ ګولے
دَ زړو دِ ښکو(۱) بازار دِ ګولے

بس دے راشه چه خوږے خبرے اوکړو
دَ سپیړو قصو دِ بار دِ ګولے

اباسین شه هر موج نوے په غوږ زنګ کړه
دَ زهرو اوښکو قطار دِ ګولے

دَ ماضی پسرلیه ته دَ چا جلّاد دے
داغ دِ هر زړهٔ په ګلزار دِ ګولے

نور څه نشته سا دګان ویرول غواړے
ما رختک ته چه تور دار دِ ګولے

مشرقی برلن
۱۵/۱۱/۸۵

(۱) دونګه - سُروړه - چه څاروسے
مرشی - او پوئ اُوکړی -

www.pdfbooksfree.pk

پردی ماشومان کورو خپل کلونه رایادیږی
دَ زړهٔ په کل مو پرځه هم سله (۱) شی را وریږی
څوک وائی چه یاد نشته دے، غم نشته، اونسکے نشته
که زړه دَ انسان کښته وی نو هم لکه موم کیږی
دا زړهٔ خودَ بنائست یوه ناز که دردانه ده
په لږ څه خوشحالیږی او په لږ څه خفه کیږی
دا ته ئے چه دَ وینو په طوفان مو پروا نه کړے
بنائسته بنائسته کلونه خو په برخه هم درنیږی
څنګه ته رایاد شوی ښه یاران دَ اکوړی دی
والله! که دَ برلن په بنائست یو ذړه پوهیږی

---

(۱) سله۔ یخ چه بوټی سیزی۔
خزان راولی۔

مشرق برلن
13/11/85

www.pdfbooksfree.pk

ته راشه ورته اوګوره چه څه ښکلی فضاده
را اوتی دَ جنت دَ باغچونه دا دنیاده

ګلونه دَ انسان، انسان دَ ګل په تماشه دے
محنت نه جوړه کړی ښیادم یوه ښکلا ده

پرواز دَ انسان بند نه دے دَ زړه په پنجره کښے
چه څومره څوک الوزی خپل آسمان خپله هواده

په ګیډه پسے نه ځو، مونږ پښه نه پریږد وپه ګیډه
په کور دَ ملاجان کښے زمونږ لویه ګناه داده

خپل ګل تازه کوو دَ سرې توب په باغچه کښے
راځی چه پرے ورځو په دے دَ ټولو یوصلاده

عجب قضیه ده دَ ژوندون په معرکه کښے
ملا سره فتوه ده، دَ ″ خټک سره وفاده

مشرقی برلن
14/11/80

www.pdfbooksfree.pk

مونږ مزل غواړو دَ سړو شوندو دَ کلفام په شفق
دوئ موتیر باسی دَ یو تورغوندۍ ما بنام په شفق

ازغوکښې هم هوس دَ مینې دَ خندا پیدا شو
چه مستی دوه ستر کے بنکاره کړے دَ خپل یام په شفق

دَ انګوری میونشه ئې عنبرینه (۱) کړله
چه ستا دَ خټو رسوړے اوشولو دَ جام په شفق

ما چه ستا سره لوپټه اولیدله په برګو درکښې
دَ اختر میاشت وه چه بنکاره شوه دَ مرام په شفق

د ختکه ؟ تا چه په پښتو کښې شاعری شروع کړه
یو سره لمبه دِ راپیدا کړه دَ کلام په شفق

مشرقی برلن
16/11/80

(۱) عنبر۔ مښک وعنبر۔ دلته عنبرینه یعنی دَ عنبرو له عطرو دکه۔

www.pdfbooksfree.pk

نن ستا دیدن رم اوکړو د بنکلا په آئینه کښے
ستا ستر کے وی د کلو د خندا په آئینه کښے

چا وے دلته د پت د سړو کلونو کلد ستړده
چه وراغلمه ته وے د وفا په آئینه کښے

د مینے پتنکان عادت د نوی و نخرو نه دی
بس ته ورته بنکاریږے د رنړا په آئینه کښے

د ژوند د بنکلا، ستا د وفا دوارو خوند پیدا کړی
پسرلی چه په خندا شی د صبا په آئینه کښے

پخوا یو جام جم و وچه پکښے ډیرځله لیدے شول
"خټک" ته نن ته بنکارے د فضا په آئینه کښے

دا اشعار د شهید انو یادګار باغ اوپلوشه (لمبه) وغیره د لیدلو د تاثر لاندے اولیکلے شو۔

مشرقی برلن
16/11/80

www.pdfbooksfree.pk

مونږ شغل هم کووخولارے ته موهُم پام دے
بنکلے مخ څنګه هیر کړو، تاسره که جم جام دے

ذوق را نه کمل غواړی، غندل، غاړه وتل غواړی
خودَ دے بنکلی تماشو دَ لاندے خړدام دے

چه په بنکلا کښے نمائش عشق کښے هوس راشی
که دَ جنت لاره وی هم ئے پریوبل خام دے

په محلاتو کښے مومی شمعے بلیږی اومری
چه پرے زمونږ ه میاشت راخیجی هغه دابام دے

که صبا کل غواړے ختمکه" نن به وینے کړے
دَ مئینانو باغیچه کښے دا اعلان عام دے

دَوارسالاره کښے - ریل کښے

17/11/80

www.pdfbooksfree.pk

داچه دَستر ګو نشے ښائی او پیالے ورکوی
دا معشوقے نه دی میُنو ته د هوکے ورکوی

دیدن دَبوئ او ګل پریشان دَتول چمن رونق وی
مینه په څه که غنچه هرچاته وربرے ورکوی

دَسودا ګر و محبت کښے یک رنګی هم نه وی
یو ته خیرے کوی بل ته پتاسه وی کوی

مونږه خپل سی لکه دَجام دَدینو پک نیولے
په دے چا دے یوچه په خپلو لاس به کاسه ورکوی

"خټک" اشعار نه وائی، دا خولا پخوا وئیلی
دَوطن حُوان ته دَغیرت داسے لیمے ورکوی

وارسا۔ بولن لاین۔ ریل

17 / 11 / 80

www.pdfbooksfree.pk

دَدے ښار په زړګی باندے زخمونه لاښکاریږی
دَښکلی لوښتے لاندے داغونه لاښکاریږی
دَژوند دا باغیچه چه کومو ټینو ښائسته کړی
دَګل په اَننګو کښے ځ ښکونه لاښکاریږی
ما اولیدل چه لارے ئے غنچے ګلان مخونه
خوځنګ ته دَرقیب دَقدم پلونه لاښکاریږی
غوټئ ئے شوکولی دی ګلان ئے ژړولی
په څانګو دَګل چین سپیره لاسونه لاښکاریږی

www.pdfbooksfree.pk

دَ نوی ژوند دَ بنکلی رنګینه مستئ په خواکښې
دَ جنګ په لمبو سوی تور داغونه لا بنکاریږی
بنه بنکاری چه پسرلے په منډه منډه راروان دے
دَ تیر خزان دَ پانړو زیړ مخونه لا بنکاریږی
دَ جنګ دَ شهید وینه انګو کښې سره شراب شو
خو بنار کښې دَ نازیانو کنډ رونه لا بنکاریږی
تورتم به هم وږیږی، هم ترخیږی، هم تیزیږی
خو مونږ ته خپل پے ځنې سحرونه لا بنکاریږی
"رختک" دَ لوئ اوښے لاندے غلے غوندے ناست دے
په ستر ګو ئے نوی غوږ زنګونه لا بنکاریږی

دَ برلن، وارسا ریل کښې
17/11/85

دَ شرقی برلن بنارپه لیدو۔

www.pdfbooksfree.pk

www.pdfbooksfree.blogspot.com

پولینډ

برکت دَ سپینو لیچو سره دبنګړو دے

دا دَ مینے ګودی وینه چه ودان دی

www.pdfbooksfree.pk

دَ ی قیب ستړګو کښے زهر دَ خزان دی
چه ئے کوم خواته کتلی هرځه ویران دی

برکت دَ سپینو لیچو سرو بنګړو دے
دا دَ مینے کودی و نه چه ودان دی

په سرو ایرو کښے سړه بخری خاندی
دَ مستیو کاروانونه رای وان دی

چه نشے، حُسن، نغمے، او مینه راوړی
هغه مستے ښکلی ستړګے دَ جانان دی

زما سود لیونو ملګرو راشئ
ارمانونه مو په سرو ګلو کښے خاندی

دَ "ختک" هیواد دِ ولے ګلزار ی نه وی
پښتنو کښے د یر ښائسته ښائسته ځوانان دی

وارسا

19/11/80

www.pdfbooksfree.pk

په زړه رم دی روښانه ستا دَستر ګو پلوشے
نو ګله په ما ښے لګی دا نور ے تما شے

دا مونږ ه دَ جانان دَ ناز ولو ستر ګو مست یو
مونږ څه کوو جا مونه، مونږ ه څه کوو نشے

www.pdfbooksfree.pk

بس دغه شان به ناست، دَزړه ډیوې به بلوو
همدغه دَ ستالارې ده، راځئ به رابه شې

دَ ګلو په کیارو کښې غړیدلی ستړګې کړئ
چه څولړمانان شته تر هغې شته دے نشې

« ختمکه» چه خواری کوی هغه به پرے مړیږی
دیدن دَ ژوند په درمن لګولی دی رشې

وارسۍ

۱۵ / ۱۱ / ۸۵

www.pdfbooksfree.pk

www.pdfbooksfree.blogspot.com

ماسکو

هرنۍ خم مې کُل بنکاری دَمینے نه

دے فِضا کښے زیرے دَ غندلودے

www.pdfbooksfree.blogspot.com

www.pdfbooksfree.pk

دے خاورہ کښے عطرئے دَ خنډو دی
ځکه غلغلے پرے دَ بلبلو دی

دا سیند چه روان دے جوړ دَ مینے دے
دا چې لهرونه دَ سرو ګلو دی

هر زخم م ګل بنکاری دَ مینے نه
دے فضا کښے زیری دَ غندلو دی

لاړے دَ تیرے وریځ زیړے شوے
نخے دَ سحر دَ ښاختلو دی

پورته کړه خرسی دَ توږو خاورونه
ورځے په میدان دَ ګډیدلو دی

زیرے دَ بیلتون سړو ته زې یوسئ
بنکلی رایوان دی په راتللو دی

راشئ چه لږ کښینو دَ "ختک" سړه
ده سړه یو څو قصے دَ بنکلو دی

۲۶/۱۱/۹۵

www.pdfbooksfree.pk

ګلونه خوبه خاندی او لعلونه به ځلیږی
ځما خواره زړګیه وایه ستا به نوخه کیږی

دَ مینے دا کاروان خوپه ګډا ګډا روان دے
که ته داسے غافل ئے تاته ګله اټالیږی

ما اولید دَ وصال دَ ګلو سورا مبیل په غاړه
دَ مینے په دګرچه خوک دَ هرڅه نه تیریږی

ملیاړه ! ته به څه کوے دَ خپل باغ سړه وایه
سپرلے خوپه یو منډه را روان دے رارسیږی

اے روغوداړانده دَ لاسه اونیئ چه رسی
"رختیک" درته مشال غوندے په لاره کښه بلیږی

ماسکو

26/11/85

www.pdfbooksfree.pk

داسرہ شعلہ چہ ئے رنړا پہ ټول جهان خورہ شوہ
وینہ سرہ مینہ شوہ پہ فکرد انسان خورہ شوہ
پہ انسانی مینہ قربان د وینے هره قطره
د سحر خیره شوہ نه مزکه پہ اسمان خورہ شوہ
دا ن چه تور زنخیر ما تیږی، سره بنګړی شنږیږی
د دے شفق د ګل و بدمه پہ ګلستان خورہ شوہ
د مشرق ناوی چه سور خال د یارد وینے کیښو
د بنکلا کوکه ئے د حسن پہ میدان خورہ شوہ
د نړۍ باغ کښے ئے د هریوی نک جلوه بنکاره کړه
د انقلاب د نمر رنړا وه پہ یو شان خورہ شوہ

www.pdfbooksfree.pk

خوارو کوډلوته ئے رادېږه دَمحل نه دولئ
په خواری کښو کښے مُسکا دَ اطمینان خورہ شوہ
باغ دَنړئ نه دَ انسان بنکلے جنت جُوړیږی
لاړه دَ مکر تورہ جاله دَ شیطان خوړہ شوہ
دَ استعمار تغر تولیږی په کوټ کوټ دَ دنیا
دَدے شغلے دَغوی زنګ چغه په جهان خوړہ شوہ
"خټکه" تا دَ خپلے پولے پټې نړ سموہ
ترتالمنه دَ رحمت دَدے باران خورہ شوہ

ماسکو

28/11/80

دَ کریملن دَ مانړئ په خوا کښے دَ انقلاب دَ شهیدانو په یاد کښے بلیدونکی سړے شغلے لیدلونه پس۔

www.pdfbooksfree.pk

ستړګو کښے مسکا دَ اُمید ونو ده
نخښه مو دَ ښکلو سحرونو ده
دا دَ غوټۍ څیری ګریبان سړه خندا
ښکلی قافله دَ بهار ونو ده
مړاوی زړونه، اوښ خندان تازه واخلئ
ورا پرے راروانه دَ ګلونو ده
هیڅرے پسرلے په وروستو تلے نشی
سکوټه فیضله دا دَ وختونو ده
ماته پکښے زیړے دَ صبا بشکاری
څه ښکلے رښړا مو دَ زخمونو ده
اے زما دَ خوږ ستړګو رښړو اوښکو
ستاسو داخندا خو دَ لعلونو ده
درک مه شئ دَ دے میدان سور و زلمو
څارشمه موقع دَ غوږ زنګونو ده
داچه نن شفق کښے مسکا ویني
ناوی دَ "خټک" دَ ارمانونو ده

ماسکو- بوکرین هوټل
2/12/80

په لومړۍ یونیورسټی کښے دَ څپلو زلمو دَ لیدلونه پس۔

www.pdfbooksfree.pk

بازګشت

دَ وهمونو لیونی په هرقدم مړی
دَ وفا مجنون په پښوکښې دَلیلا مړی

www.pdfbooksfree.blogspot.com

www.pdfbooksfree.pk

دَ سحر نوی پلوشے چه دا رنړا راولی
دَ ارمانونو په زخمونو کښے مسکا راولی

دَ بیلتون سوی دَ غوټیو په شان اوغوړیدل
دَ دیدن ناوی ورته نن بادِ صبا راولی

زمادَ مینے په تود دشت کښے ، لیونو ملګرو
دا محمله نه درته غیګوته لیلا راولی

لږ ورته اوګوره ، دا توره توره ګوره وریځ
په مئین زړه دَ زلفو سورے دَ آشنا راولی

دَ " ختک " وینه ، ستا سوا وینکے ، دَ خوارانو خوله
نوے پسرلے ورته په ګرده پښتنخواه راولی

کابل
3/12/80

www.pdfbooksfree.pk

دَ وفا وډمه دِ ژوبل زړه کښے ستاوی
چه تازه دلته دَ زړهٔ غوټئ زماوی

دا ګلونه چه بنائسته دی په رنګ نړی
خوله ئے د ګډا وی که وینے پرخندا وی

نادانان دَ رنګ و بوئ پرده کښے ورک شی
هر سپرلے دَ ژوند دَ ناوی نو اَدا وی

دَ کلام تیزه لمبه دِ سره مه شه
پکښے نخښے دَ سور ستوری دَ صبا وی

دَ لعل تورے ستړکے کله وی تندی کښے
خو دَ زړه په وینو ئے بله ئے دنیا وی

www.pdfbooksfree.pk

کہ دُنیا دِ په نظر نه راځی خیږدے
آئینه دِ دَ شعوری او پت صفا وی
زه چه کله نړکس وینم ورته ژاړم
پکښے ستا داغلی سترګے هویدا وی
دَ دریاب په غاړه کښینه چې شمارم
یو چپه بس ئے دولئ دَمدعا وی
دَ بیلتون صحرا کښے خیږدے مجنون ګرځه
وخت محمل شو پکښے ناسته به لیلا وی
دَ ختهکو دَغره هم ره تیګه ښکل کړه
چه پکښے به لیونئ مینه زماوی (۱)

---

(۱) دَعارف خټک چه نابینا دے. غزل آوریدو نه پس دَ هغه دَیا دو سره .

www.pdfbooksfree.pk

زړه دَ خوبانو په بنکالو پوهیږی
باغ دَ سپرلیو په راتلو پوهیږی
ته چې همزولوسره پټ پټ خاندی
دلته‌م زړه په درزیدو پوهیږی
توری دیوالونه، اوچت غرونه څه وی
مینه دَ زړه په تلو راتلو پوهیږی
مونږه دَ سرپه قربانئ عادت یو
هغه جولئ ته په ړاتلو پوهیږی
که تورې شپه وی، لاړ دَ تورو په سر
مئین دیدن ته په وړتلو پوهیږی
ته چې رقیب کړه سندرے وائے
دلته "خټک" په کنایو پوهیږی

کابل
3/12/80

www.pdfbooksfree.pk

دَ څنډو په وَل وَل کښے ګلان په کوم تال ځانګی
په باغ کښے حریفان او رقیبان په کوم تال ځانګی

دَ سړو شوندو وَ جام سره محمل دغه دے راغے
دَ وخت دا بیر سړی مجنونان په کوم تال ځانګی

دَ رعد په ګړزا کښے دَ جانان دَ بنګړو شرنګ دے
دهمونو ویرولی عاشقان په کوم تال ځانګی

دَ وخت قاضی ته ورانده بیا دَ حق مقدمه
منصوری په کوم تال ځانګی، ځاروونان په کوم تال ځانګی

دَ مرګ او دَ ژوندون دے آئینے ته فکر اوکړه
مچان کوم ځائے کښے مړه شی پتنګان په کوم تال ځانګی

دَ تهندے دَ پرهر نه دِ دَ ګلو وبرے ۱۲ غلے
"خټکه" راته وایه ستا ارمان په کوم تال ځانګی

کابل۔ کارته سه
/۱۱/۱۱/۸۱

www.pdfbooksfree.pk

لکه سپوږمۍ تورو وریځو کښے پټیږے ولے ،
ځما دَ مینے دَ هوليُ ځنے شرمیږے ولے

اے ملغرے دَ بنائست خونه دِ اوپژنه
دَ زړه دَ مینے په سیپئ کښے نه ځائیږے ولے

سپرلی په تورو توږو غرونو کلان اُوشیندلو
ته دِ دَ زړه په دے صحرا نه راوریږے ولے

که دِ زخمونو کښے دَ ځُسن ډیوے نه ځلوے
نو مخامخ راته په ستر کو کښے مُسکیږے ولے

دَ ختک زړه خوستادَ مینے دَ وفا جاله دہ
لکه دَ زانړی په هوا ترے نه تیریږے ولے

کابل. کارته سه
۸/۱/۸۱

www.pdfbooksfree.pk

نن بادِ صبا سرهٔ وږے وے دَ کاکلو
ازغو کښے زخمی زړونه په خندا شو دَسرو کلو
چه نمر په خپلو وړانگو کښے روښانه راختلو
زما په زړه داستا دَ تندی تیک وځلیدلو
داعُمر دا سے تیر شو په مستی کښے ستا په طمع
یو ګل دوچه دَ مینے په خندا کښے ریږید لو
چا هلته دَ خُولو په برخه بنکلی غوټۍ ګل کړه
مونږ دلته باغ دَ وینو په باران اولمبولو
که لوبه دَ بنکلا او دَ وفا وه مونږه اوکړه
قصے به غرضیان کړی دَ ګټلو دَ بایللو
"خټک" دَ خپلے مینے دَ پسرلو وږد موکښے ګوری
خندا کښے دَ سرو کلو په نغمو کښے دَ بلبلو

کابل
10/1/81

www.pdfbooksfree.pk

سیلاب دَ جګو غږو کښے سره ټیکونه لټوم
دَ وخت په پرهرونو کښے ګډلونه لټوم

اے بادہ لږ څما په خوا کښے پام کوه رالځه
دَ زړهٔ سوی دیوه کښے سحرونه لټوم

بیلتون ټوره تیاره کړه، لاره لویه، وخت کوتاه
دا زهٔ دَ مستوستر ګو مشالونه لټوم

څه ښکلی ده دَ دل په ول زلفانو مشغولا
پسرلی پسے کاږه وا ږه وختونه لټوم

اوس ګرځمه دَ رونړو دَ وفا هَ لاسه ږوند
دَ لویو لویو لارو ګامو وانونه لټوم

«خټکه» شین خالو در باندے دیږے لوبے اوکړے
اوس ناست یمه دَ خپل زړګی داغونه لټوم

کابل-کارته سه
29/1/81

www.pdfbooksfree.pk

دا دَ مینے مرحلے دیرے ترخے شوے
که زما دَ بخت تیرے دیرے ترخے شوے

خپل کړلے کلام پوندو کښے ازغے شو
منزل خوبدے، تجربے دیرے ترخے شوے

دَیار زلفے دَرقیب په اوبدو ځانګی
دَمینو حوصلے، دیرے ترخے شوے

دیار خپل کا رجوړی زمانے وران کړو
انتظار کښے تورے شپے دیرے ترخے شوے

جوړے بیا زما دَ صبر امتحان دے
ستا دَ ستر ګو اشارے دیرے ترخے شوے

اے یارانو یا څه، او شو یا څه کیږی
دَ "خټک" خوبدے مصرعے دیرے ترخے شوے

کابل. کارتسه
28 / 1 / 81

www.pdfbooksfree.pk

دَ زړهٔ دَ وینو جام کښے ستا دَ شونډو رنړا وینم
دَ خپل تندی تیرو کښے ستا دَ حُسن صبا وینم

څه بښکلی آئینه دہ، دَ بیلتون دَ شمے او ښکے
په هر یوه قطره کښے ته ما وینے، زه تا وینم

اعجاز دَ ستا دَ حُسن که زما دَ مینے پت دے
دَ سرو زخمونو خولو کښے ستا ناز که خندا وینم

داته ئے چه زما مینه دِ دی په در رسوا کړه
دا زهٔ یم چه دِ ستر گو کښے لا اوس هم وفا وینم

دا زهٔ چه په سختک پسے درشتونه گوره گوره گوره حُـم

دَدهٔ په لیونتوب کښے هغه څپله لیلا وینم

کابل - کارته سه
29/1/81

www.pdfbooksfree.pk

دَ ازغو سره م ډیرے لوبے اوکړے
ترے پیدا م دَ ګلونو خندانه کا

لیونو غوندے اوس نورو پورے خاندم
لا لاخه کا ؟ کا کاخه کا ؟ ساما خه کا

کابل

29/1/81

www.pdfbooksfree.pk

لیونی چه په منزل کښے دَ وفا مری
دَ بقا په لوبه لاړه ئے فنا مری

دَ شعور بله ډیوه دِ تته مه شه
توی دیوان دَ تورو شپوئے پرزړا مری

دَ ساقی لیمو کښے جام دَ وصل راغے
اوس به تندے دَ میخوار وپه خندا مری

دَ غنچے کوک دَ مینے ډیوه کئ ده
دَ تیرو سپیره لښکرے په مسکا مری

دَ وهمونو لیونی په هرقدم مری
دَ وفا مجنون په پښو کښے دَ لیلا مری

دا رخټک چه په سلګو سلګو کښے خاندی
مطمئن دے چه په مینه دَ آشنا مری

کابل
۱۱/۲/۸۵

سلیم راز دَ یو غزل لوستونه پس دَ هغه دَ یادو سره -

www.pdfbooksfree.pk

دے مړاوی زړهٔ ته راشه دَ وږمو خبرے راوړه
دَ شونډو په مُسکاکښے دَ غوتو خبرے راوړه

دَ زلفو په تړالونو دَ عطرونو ډولئ راوړه
دَ مینے دَ دیدن دَ مستو شپو خبرے راوړه

دا لویه خاموشی دَ بیلتانه راته بلا شوه
ته راشه خیردے راشه دَ کیلو خبرے راوړه

خبرے دَ لالا دَ رقیبانو په صلا شوے
مجنون زړگی ته راشه دَ لیلو خبرے راوړه

www.pdfbooksfree.pk

دَ رحمان پیښور بیا نن هور اوکړی شو
دَ خوشحال اکوړے نه دے، رښتهٔ هوی شو

چه په داهسے غمیدلی وخت کښے راغے
دَ سرو ګلو پسرلے نه شو داخو هوی شو

www.pdfbooksfree.pk

چه زما دَ وطن زړه پرے تازه نه شی
دا سے غیږپسې لی کدراشی نو پرے څه شی

چه کل وینی ژوبل زړه ئے لیدے نشی دا سے کسی خوبه بسه وی چه راندۀ شی
دَ رحمان دَ ملنګانو دِ خدائے مل شی
ملکان ئے چه دَ خان عزیز خان غله شی

دَ حمید دَ پښتو پت چه پکښے نه وی بیهوده دی غزلونه که وایه شی
دَ اورنګ" په پیښور" کښے بیت بازی" ده
ردیفونه مړه الفاظ و کښے تاړه شی

دَ باکرام مشاعرے به جنازے وی طوفانونه دَ نظمونو کړاودۀ شی
دَ وطن زخم لیموته ورنزدے کړئ
که دا کسی لږ دَ پت په وینو سرۀ شی

دَ نیتونو امتحان دے حریفانو دَ یعقوب لیمه به خلاے کا زړه نوا شی
"خټک" هغه ستا خټک دے بدل نه دے
ستا په زړه دِ دَ رقیب سوے و نشی

17/4/76

www.pdfbooksfree.pk

دا ما چه تورو شپو کښے په خندا ژړلی دی
د شمے غوندے لاړه کښے م ستا ژړلی دی

هر څاڅکی م د اوښکے ستا لمنه باندے ګل
دا داسے مستے وینے وایه چا ژړلی دی

د اوښکو پلوشے ئے د چمن په خوله مسکا،
دا مونږ ته لکه ستړکه د صبا ژړلی دی

په باغ کښے د بنکارئ پرخه د اوښکو په خیر ببریښی
غوتیو د ګلونو په خندا ژړلی دی

7/5/76

www.pdfbooksfree.pk

ما وے زہ بہ ئے پہ لارہ کښے لوگے شم
خو ھور چرتہ دے چہ خلکہ سپیلنے شم

پردو اوشو لم خپلو نزدے نکړم
اوس حیران یم ورتہ خپل شم کہ پردے شم

ما دَ ژوند لوبہ دَ عشق پہ جنون وکړہ
پریږدئ ما چہ دے صحرا کښے لیونے شم

نہ وفا کړی نہ کیسے ہم اوریدے شی
نور دِ ژبہ را نہ پریکړی چہ گونگے شم

باچاخانہ! ملامت را باندے مہ کړہ
دَ بلہرام پہ کوی بہ خہ خوشحال خانے شم

زہ "ختک" ھغہ دَ مچھ دَ چیل ختک یم
خوچہ ستا کالہ تہ راشم قالینے شم

17/6/76

دا داځل پسرلے راته رښتیا راښکاره کیږی
دَ زړه دَ پرهرخوله کښے م خندا راښکاره کیږی

ګلونه خو هر کالے په د غرونو را وریږی
خو داځل په زړه کوتو کښے ښکلا راښکاره کیږی

دَ ننګ دَ دشت سرمستو لیونو زیړے درباندے
دَ خپل مجنون تندی کښے م لیلا راښکاره کیږی

د ختګه لوآغراو نیلاب دواړه ترلوګے کړه
اتک کښے دِ بیرغ دَ لوئے بابا راښکاره کیږی

ستامینه کښے زما دَ سادګئ څه انتها ده
خبره ستا په هکله دَ هرچا منلی ما ده

زمالوئے انتظار ته دِ ښه دهو" ده او نه نا" ده
حیران یم دے ادا ته چه وفا ده که جفا ده

www.pdfbooksfree.pk

دَ هجر په لیمو م ستا خیالونه ځی راځی،
په سوی باغیچو رنګین ګلونه ځی راځی

یو ځل به دلته هم راشی دَ مینې قافلے
دَ زړهٔ په صحرا ګونډی م وختونه ځی راځی

ګلونه بیوفا دی خو یادونه راته راکړه
په زړه دَ تورو ستړګو څو داغونه راته راکړه

چه داستا دَ لوری باد چرته پیدا شی
دَ وفا دَ اُمید ګل م په خندا شی
په زړګی م دَ ارمان سوی داغونه
دَ بیلتون په توی تمونو کښه رنډا شی

دَ دیدن وړمه دَ باد سره راولیږه
دَ رقیب په کور دِ تورې سیلۍ راشی

www.pdfbooksfree.pk

زړهٔ م راته وائی چه بس دلته تاته کښینمه
هرځه چه لرم ستا مستو ستړکو ته ئے کیدمه

دا د زړهٔ داغونه او د ذهن پرهرونه م
ډیر په عقیدت ستا د بنائست دربار ته پریدمه

څومره اند پښیمانی څومره غمونه چه لرمه زه
تول د ستا د څنډو ولونو کښے بس هیر کړمه

دا د ژوند درانه کابهٔ وار هٔ پیتې کندار کړمه
تور زلفے عمر د بنائست غیږه کښے تیر کړمه

کاش چه دے ماحول کښے م داستړکے پټولے شوے
دا انسانی زړه م لکه کانړے سختولے شوے

www.pdfbooksfree.pk

زړهٔ ډم تردے وخته بلاګانو ته سا تلے دے
ډیر په زیار او زور ډم خپله غیږه کښے نیولے دے
دا شاعر، حساس، لیونے، هست، او په ټوپونو زړهٔ
ما دَ یو ما شوم غوندے او نړی کښے ټینګ تړلے دے
دا که په اسمان کښے دَ بنائست سپوږمئ لیدلے وه
ما نه وی ته ډیر په ناخوالی کښے رنګیدلے دے
دے عن دَ بنکال نه ترکابله دَ بنائست پرتل
زه چه خبر یدم نو په سرو وینو لمبیدلے دے
نه خودے قانون، او نه رواج، نه مسئلے منی
کفر ئے دے لاره کښے سینے پورے نیولے دے
چرته چه ئے ستړے که په بنائست ورلګیدلی دے
دے ورته په عین مینځه لار کښے غږیدلے دے
کانړے دے، فولاد دے، تاتره وه، سلیمان غږ دے
بس دَ یو بنائست په ولړ اندے هسے خویندلے دے
دا شاعر، کمزورے، لیونے، او په ټوپونو زړهٔ
ما لا تردے وخته ټینګ په ځائے پورے نیولے دے
اے زما دَ ژوند، دَ نظر یئے او دَ مرام مینے
دغه دَ اختیار قوت ډم تا راته بخښلے دے

www.pdfbooksfree.pk

زړګیه جوړیږي لکه د مینې
نه چې د غوښې، نه چې د وینې
هیا نه په ځان ئې، نه په جهان ئې
چې حُسن کښے چې بشکلی ژوند ئے

د محروم دهقان په خوله کښے یوتپه شوم
د مزدور، خړ د خوَلو کښے ولولـه شوم
د پښتون په ښاوړه چغه د غیرت شوم
د اولس د کورتیږوتلـه سړه ډیوه شوم
خپل کوټل م د جرس د وندے ټک ټک کړو
د خیبر د لوئے لارے قافله شوم
د ځوانئ وخت م جیلونو کښے لوګے کړو
په پاخه عُمر د غرونو غلبله شوم
د خپل کوی د پاره ډ بشکه د بیلتون شوم
خو د خاقو په جوړئ کښے دُردانه شوم
اے وطنه ستا د سر ے ژړا په مینه
یو د تورو غرو "ختمک" ووم پروانه شوم

www.pdfbooksfree.pk

وخت حیران کړم اول ځان او بیا تاته
اوس شلید لے کړیوان یوسم کوم دې کاته
ما خپل ټول عمر دَ ستا په درشل تیر کړو
تا دا اوخندل دَ بام دَ سې کا چاته
ستا بنائسته دُنیا دِ تاته مبارک وی
یو نظر خو واپس اوکوره لږ ما ته

31/8/80

چه محفل شی چرته جوړ دَ شاعرانو
په زړهٔ راشی تیر و خنونه دَ یارانو
دَ خوشحال رَغړهٔ دَ شنو پلو څو عطر
دبابونه دَ ګرځان دَ ملنګانو
دَ لندې دَ مستو غاړو ګودې ونه
مجلسونه په حجرو دَ اخوندانو
یو وږمه غوندے زما په زړګی راشی
مانشه کړی په سبکلا کښے دَ ګلانو
دَ پخمان نه رم اوچت کړی هشنغرته
دَ خپل خیال وزرم یوسی پیښور ته

www.pdfbooksfree.pk

دا لمسون دے کہ ئے خپل نازو ادا دی
نن بدل ړانه اکړے دَ اشنادی
دَ بل اوړی زما ناوری ملګرو
په جانان دا تورے کوڅے کړی چا دی
سحر یاړ، غرمه ریبار، ما بنام رقیب شوے
کوے لوبی دے ډاخیستی دا په ما دی
سردے سی وخوری منزل ژاړم یارانو
چه دا داسے تربوړان ږم رهنما دی
غوټهٔ ژاړی او که خاندی کارے خپل دے
داخپیړے په عادت کښے دَ صبا دی
دَ ختک" خوله په ګیلو اموخته نه وه
نن ئے تا کښے څه لیدلی خامخا دی

دهلی. ۲۰ جنوری ۱۸۳۰

PDFBOOKSFREE.PK

مونږ ملنګان یو خو د خپلے ملنګئ په کند کښے
خپل انسانی اوپښتنی ملی غرور هم لرو

ساقی ته یو سلام کوو، که هغه پرونده ختو
نو بیا په تشه کاسګئ کی خپل سرور هم لرو

دهلی۔ ۲۱ جنوری۔ ۱۹۸۳

کیټه رضوان الله

www.pdfbooksfree.pk



PDFBOOKSFREE.PK



بیعه ۵۰/- کلداري